# د پښتو غزل تاريخي بهير

په پښتو ژبه کې د اکبر زمينداوري نه د غزل د مزل دوام پيل شو ، چې له نن څخه شپږ سوه کاله وړاندې وه ، نوموړی لومړنی شاعر دی چې مونږ ته يې غزلې رارسېدلي دي ده د مغلي پاچا ګوډ تيمور چې په (۷۷۱-۹۰۷ه) زمانه کې ژوند کاوه هم مهالی و چې د هغه ظلمونه يې په شاعرانه ژبه ښه انځور کړي دي:

د مغلو تيمور هسې په اور وســـوم
چې به هېر پدې ماتم زمينداور کړم

شهسوار سنګر وال په ادبياتو تاريخ کې اکبر زمينداوری غزلبول شاعر ياد کړی ، د زمينداوري غزلونه ساده او روان دي او د ولسي غزلو رنګ پرې ګډ دی چې يوه بېلګه يې دا ده :

چې مدام زه ســـتـا ومخ ته نظر وړم
د بېلتون له بېـــرې زړه زېروزبـــر وړم
چې پرما دې حکم وشي چې خـــادم شه
دغه ستا د نغري سور انګار په سروړم
چې جمال د مهر وميني راښکاره کړې
شين طوطي شم په هوا د ميني پر وړم
چې ګفتار دې په ښه مينه راته وشـــي
نو بډای شم کوتې کوتې در ګوهر وړم
ستا د تورو څڼو خيال هسې طويل کړم
تل په زړه کې دغه فکـــر زه اکبر وړم

خو په کلي توګه دا هم نشو ویلی چې د پښتو غزل ابتدا به د اتمې هجري پېړۍ څخه شوې وي، ځکه له دې وړاندې په ژبه کې نور شاعران هم موجود وو ، د پوهانو له نظره د دوهمې او اتمې هجري پېړۍ ترمنځ به د پښتو غزل په ملي او عروضي شکلونو خامخا موجود وه ، چې د ماضي په تورو تیارو کې رانه ورک دي ، له اکبر زمینداوري څخه وړاندې شاعرانو به په ملي او عروضي غزل خامخا خپله طبعه ازمایلې وي ، خو په دې اړه کومه بېلګه له موږ سره نشته ،نو ځکه زمینداوري د پښتو د لومړي غزل لیکونکي په توګه یادوو.